

د سولې سفر

لسمه کیسه

دوهم چاپ

# سوله او پخلاینه


**لیکونکي:**

داکتر جوانا سنتا باربارا
ماری- جو لند
داکتر گرایم مک کوین
کیون آرتر لند

دیزاین: یار محمد تره کي
*انځورکونکئ : ل. غفوری*

*ژباړونکي: ثریا سدید او محمد یوسف جبارخیل*



موسسه کمک به اطفال افغانستان
**Help the Afghan Children**
www.htac.org

**كيسې او د ښوونكي لارښود په لاندې ويب سايتونو كې شته دئ:**

**[www.journeyofpeace.ca](http://www.journeyofpeace.ca)**

**او**

**[www.htac.org](http://www.htac.org)**

ددې كيسې كتاب د موسسه کمک به اطفال افغانستان په واسطه تمويل او ژباړل شوی دی.

موسسه کمک به اطفال افغانستان

**Help the Afghan Children**

*'building a civil society through education'*

# د سولې سفر

## لسمه کیسه

**دوهم چاپ**

# سوله او پخلاینه

لیکونکي:

داکترجوانا سنتا باربارا
ماري- جو لند
داکترگرایم مک کوین
کیون آرترلند

دیزاین: یار محمد تره کي

انځورکونکۍ : ل. غفوری

اصلاح کونکي : کیون آرترلند او ماري – جو لند

د پروژې تنظیمونکي: ډاکترصدیق ویرا او ډاکتر ګرایم مک کوین

ژباړونکي : ثریا سدید او محمد یوسف جبارخیل - موسسه کمک به اطفال افغانستان

دسولې دځیړنو مرکز ، دمک ماستر پوهنتون
هامیلتون ، آنتریو ، کاناډا

د 1388 کال پسرلی

**په کیسه کې ښکیل کسان :**

**جمیله** : یوه ۱۰ کلنه نجلی چې دافغانستان دیوې لرې پرتې سیمې په یو کلي کې ژوند کوي .

**احمد** : دجمیلې ۵ کلن ورور

**عبدالله**: دجمیلې ۱۵ کلن ورور

**حلیمه** : دکوچنیانو مور

**میرزا**: دکوچنیانو پلار

**بي بي جان** : دکوچنیانو پلرنی انا

**غلام کا کا** : دکوچنیانو پلرنۍ نیکه

**یونس** : دکوچنیانو کا کا او دبي بي جان او غلام کاکا کشر زوی ، چې په ۲۰ کلنی کې دماین دچاودېدو له امله ووژل شو.

**فاطمه** : دکوچنیانو تروراو د یونس کاکاځوانه کونډه

**علي** : دکوچنیانو تره چې په ښارکې هستوګنه کوي.

**عایشه** : دکوچنیانو ترور ، دعلي میرمن چې په ښارکې ژوند کوي .

## دکیسې لنډیز :

جمیله له خپلې کورنۍ سره دافغانستان په یوکلي کې ژوند کوي . دهغې کورنۍ دهېوادپه داخلي اخوډب کې پخوا هم ډېرې ستونزې لېدلې وي اوهغه یې لا هېرې شوې نه وې چې یوبل مصیبت وربانديې راغی . یونس کا کا چې په ځمکه کې یې کار کولو،یوماین پرې والوت اوهغه یې وواژه اوپلار یې ،میرزا، یوه پښه له لاسه ورکړه .
**دجمیلې دسوغات په کیسه** کې ښودل شوي دي چې هغه په خپله کورنۍ کې دیوې ښې مشاورې په توګه رول لوبوي ، دعبدالله تشویش اوسودا له دې امله ده چې جنګ دده دمکتب ددوران یوملګري ته کلک ګذاروکړی دئ اودهغه په شخصیت اوسلوک یې بدلون راوستی دی . دجمیلې دوېرونکوخوبونوراز اوبي بي جان چې غواړي په یوه ځانګړې طریقه دهغې درملنه وکړي په دې کیسه کې ځاي شویدي .
د **بی بې جان د هوښیارۍ په کېسه** کې ښودل شوي دي چې هغه په خپله کورنۍ کې د یوې ښې مشاورې په توګه رول لوبوي ، د عبدالله تشویش او سودا له دې امله ده چې جنګ دده د مکتب ددوران د یوملګري روغتیا ته کلک روحی ګذار ورکړی او دهغه په شخصیت او سلوک کې یې بدلون راوستی دئ، د جمیلې د ویرونکو خوبونو راز او بی بی جان چې غواړی په یوه ځانکړی طریقه د هغې درملنه وکړي په دې کېسه کې ځای شوي دي .
**دکلچود پخولودکېسې** ډېره برخه دجمیلې ددردونو اورنځونو څخه حکایت کوي . هغه ماین دومره وېرولې چې په دې برخه کې دعبدالله له قهرېدلوسره سره ، له ماینوڅخه په پاکه شوې لاره هم دتللو په وخت کې لړزېږي . بي بي جان دکلچوپه پخولو کې له جمیلې سره مرسته کوي اوله همدې وخت څخه په ګټې اخیستلو کوښښ کوي چې دخپل پلار دټپي کېدلوغم وزغمي . همدارنګه بي بي جان غواړي داسې یوآغېزمنه لارپیداکړي چې دهغې په وسیله فاطمه وهڅول شي هغه غم چې ورته دیونس کا کا دمړینې له امله پیداشوی دئ په خپله ژبه ووایي .

**دميرزا دغمجن زړه په کېسه** کې ،دجميلې لپاره دادېره ستونزمنه ده چې وپوهيږي ، دميرزاپه زړه کې څه رازپروت دئ چې هغه يې دومره غمجن کړيدئ . جميله له دې کبله ډېره خپه ده چې پلاريې اوس هغسې خوښ نه ښکاري لکه له معيوب کېدلو څخه چې مخکې و . پلاريې داسې يو سړی وچې ډېرې کيسې يې زده وي . دجميلې ماشومانه پوښتنې ميرزا ته ژړاورولي ، اودا ورپه يادوي چې هغه پخوا څومره خوشحاله سړی و . اوداهيله ، چې بېرته پخوانی حال پرې راشي ، دده په زړه کې راژوندی کوي

**د يونس دسندرې په کيسه کې،** احمد او جميله د فاطمي غم او خپګان، چې هغه د يونس کاکا ځوانه کونډه وه، احساسوي او کوښښ کوي چې فاطمه بيرته خوشحاله کړي. بي بي جان هم په دې موضوع پوهيږي هغه خپل فاميل ته د مختلفو لارو وړانديزکوي. هغه دکورنۍ له غړوڅخه غواړي چې يوځای کې راټول شي او هغه خوږې خاطری چې له يونس څخه يې لري د سندروپه ويلو ونمانځي.

**د کور پرېښود لو په کېسه کې،** هغه وخت چې دشپې له خوا د دوی په کلی دمر دکيودويشتلو باران جوړ شو، کورنۍ له دې ډارونکي واقعيت سره مخ شوه چې بايد خپل يو ګران شئ چې هغه ددوی کور و ترک کړي. د کورنۍ هرغړی له د غې ناحيې څخه کلک روحي ګذار خوري. خو په اخرکې دوي په دې پوهيږي چې بايد له زړه ورتيا څخه کار واخلي او دهغو په وړاندې مقابله وکړي.

**د يونوي ملګري په کيسه کې** دميرزا کورني غواړي د علی کورته ولاړه شی . دعلي کورته له رسيدلو څخه مخکې دوی دلارې په اوږدوکې دميرزا دېو پخواني اشنا کورته ورګرځي . دميرزا ددغه دوست په کور کې عبدالله هغو خلکو په برخه کې چې په نورو ژبو غږيږي اويادبل مذهب پيروان دي دقضاوت کولو يو ارزښتنا ک درس زده کوي.

**د پخلا ینې په کېسه کې** کله چې د جمیلې کورنۍ د ښار په لورې ځي، عبدالله ولیدل چې جمیلې له کوره څخه خپله پیشو هم له ځان سره راوړې ده . د سفر په اوږدوکې هغې له ځان سره پټه ساتلې وه، عبدالله په قهر سره پشۍ له جمیلې څخه اخلي او دسرک دغاړې بوټو ته یې ور غورزوي. جمیله په ورور باندې په قهر ده او داسې ځان ښیي چې گواکې ورورنه لري، دا اوس بي بي جان پورې اړه لري چې د هغوي د پخلا کولو لپاره یوه لاره ومومي.

**دمیرزا دقهر په کیسه کې** میرزانشي کولی چې خپل اعصاب کنترول کړي . داکارددده دکوچنیانو ، جمیلې اواحمد ، دوېرې اوډارسبب گرځي . دمیرزا عصبي کیدل دهغه په کوچنیانو ناوړه اغېزپرېږدي اودادې لامل گرځي چې هغوی تل دنورو په وړاندې تنده اوتاوجنه رویه اختیارکړي . احمد چې پټ شوی وودخپل پلار اوبي بي جان خبرې آوري . دوی د هغې ناآرامۍ په هکله غږېدل چې میرزاته دده دپښې دغوڅېدو له کبله پېداشوېده . داحمد موندل په هغه ځای کې چې پټ شوی وو دازمینه برابره کړه چې دپلار اوزوی ترمنځ یوځل بیاارېکې سمې شي .

**د سولې او پخلاینې په کېسه کې** د بي بي جان عالمانه مهارتونه یوځل بیا ازمویل کېږي. هغوی په دې لټه کې دي چې د میرزا دورور کور، علی او مېرمن ئې چې په ښارکې هستوگنه لري،پیدا کړي. دوی مخکې له دې چې د علی کورو مومي، د کډوالو په یو کیمپ کې چې دا کیمپ په یو زاړه ښوونځی کې جوړ شوی وو ځای په ځای شول. کله چې د میرزا کورنۍ خپل موقتي ژوند په دغه تنگ گوټ کې پېل کړ، عبدالله له یو کوچنی هلک سره په دې خبره چې هغه خپل بایسکل د نور ود اوسیدلو په ځای کې درولی وو جنگ وکړ.

**د درملنې عنصرونه:**

تصویرونه او روغتیابخښونکې نخښې: په غېږ کې نیول، ورکړه او ساعتیري

**د سوله راوړنکو کړو وړو لپاره لارښوونې:**

غوږنیول، له نورو ښځه ملاتړ، مرسته او همکاري

**ستونزې:**

خپل زړه په نورو تشول، په کوچنیانو باندې د قهر منفي اغېز، وېره،د درناوي ، هویت او شرم له لاسه ورکول

**د درملنې لارې:**

د تاوتریخوالي په برخه کې خبرې کول، د ګمان ظاهرول او د ناسم پوهاوي روښانه کول، په غېږ کې نیول، له کوچنیانو سره خبرې او نوروته تحفه چمتوکول.

دا صفحه سپینه ده

# سوله اوپخلاینه

د میرزا کورنۍ د کمپ له ژوند سره ډیره بلده نه وه خو اړووچې د کیمپ ورځنیوستونځو ته غاړه کېږدي . دې کمپ ته نوي کډوال را تلل او ځنې ور ځخه تللي وو. د کډوالو یوتن چې غوښتل ئې د سروس موټر په وسیله یوبل ښارته سفر وکړي، خپل بایسکل ئې عبدالله ته ورکړ. دلته یوه ستونزه دا هم وه چې د بایسکل د درولو لپاره ځای نه وو. داځکه چې کېمپ کې ځای ډېر تنگ وو. یواځنی ځای چې عبدالله د خپل بایسکل د درولو لپاره لازم ولید هغه خالیگاه وه چې د دوی د هستوگنې په ځای کې د ده د کورنۍ او یو بل گاونډي فامیل ترمنځ موجوده وه. د عبدالله بایسکل کله کله د گاونډې فامیل دتگ لاره بندوله. عبدالله وېرېده که بایسکل له و دانۍ ځخه بهر ودروي،شاید چې ورک به شي.



عمر چې له عبدالله څخه یو څو کاله مشروو د عبدالله د کورنی په څنګ کې ئې ژوند کولو کله به چې عمر په لاره تېریده د عبدالله بایسکل به ئې په قهر یوارخ ته ټیل واهه.

یوه ورځ عبدالله په سهار کې ولیدل چې د بایسکل څو سیخان ئې مات شوي دي. په بېړه لاړ او عمر ته یې رېغ کړ:

"ای احمقه او جاهله! زما بایسکل دې مات کړی دئ ولی نشی کولی چې خپلې غټې پښې دې اداره کړي. "

عمر د عبدالله مخې ته ودرید وېې ویل : " ته چاته احمق وایې هلکه؟"

ته باید دلته بایسکل ونه دروې. مونږ په دې ځای کې ستازاړه بایسکل ته اړتیا نه لرو. له دې ځای څخه ئې وړه: "

عمر بایسکل له لاری نه بهر ته ټیله کړ.

عبدالله عمر ټېله کړ او وئې ویل: " زما بایسکل ته لاس ورنه وړې! "





عمر بیا بایسکل ونیو او وېی ویل: "  هلکه څه دي وویل؟! زه دا بایسکل بهر ته ګذاروم. "  عبدالله د عمر په ملا باندې د سوک ګذاروکړ . د هغو دواړو په منځ کې سختې خپړې شوې،  یو بل  ئې له جامو څخه و نیول او یوبل ئې په ځمکه راڅملولو او په سوکانوئې یو دبل په مخ او سر ګذارونه کول. میرزا او بي بي جان په منډه هغوی ته ځانونه ورورسول میرزا له خپلوچکسونوسره د هغو دواړو په منځ کې ودرید او وئې ویل: " عمر! عبدالله ! جنګ ونه کړئ؛ ښوونځي ته  دتللو وخت دئ په تا سو ناوخته کېږي ؛ همدا اوس لاړشي .

بي بي جان وويل: " عبدالله ! عمر! نه غواړم چې ستا سو دغه جنجال اوږدشي. مونږ یود بل څنګ کې ژوند کوو. باید ستا سو مشکل ته د حل لاره پیدا کړو. کله چې له ښوونځی څخه راوګرځئ ، زه غواړم چې تاسو سره وګورم او په ګډه سره یو چای وڅښو. زه کوښښ کوم چې لږ و چه میوه هم پیدا کړم. "





عبدالله او عمر په همغه ورځ له ښوونځی څخه وروسته د بي بي جان خواته راغلل. بې بې جان له مخکی څخه چای تیار کړئ و. میرزا په خپل گیلاس کې په آرامه چای چیکلو . بي بي جان لږ څه و چه میوه چې له کور څخه یې راوړې وه هغوته ورکړه. د عبدالله کوچنۍ خور او کوچنی ورور، جمیلی او احمد، غوښتل چې د شوې پیښنی په اړه ځان پوه کړي. له همدې امله ئې ځان په یو گوټ کې په سختۍ ځای کړئ وو چې هغوته د چا پام ور وانه وړي.

.

له ټولو نه مخکې میرزا په خبرو پیل وکړ او وئې ویل: " عبدالله او عمر! زمونږ په کیمپ ، زمونږ په هیواد او زمونږ په نړۍ کې ډېر جنګونه او تاو تریخوایی روان دي مونږ باید په هغو باندي نور ورزیات نه کړو. دا دستونزود حل لپاره سمه لار نه ده عبدالله ! که ته عمر په ځمکه راوولې، ایا د دي معنا دا ده چې ته ملامت نه یې؟

عمر! که ته په عبدالله زور واچوې چې هغه دې ستا خبره ومني، ایا دا کار ستونزه حلولی شي؟ دا خو ډېره ناپوهي ده! د حل لپاره ډېری ښی لارې شته دي زه او بي بي جان به تا سو سره په دې برخه کې مرسته وکړو. "



هلکانو په آرامۍ سره چای چیکلو،

بي بي جان وویل: " اوس له ټولو مخکې دا ووایي چې ستونزه څه ده؟"

هلکانو د واړو یو ځای په خبرو شروع وکړه، هر یو په بل ملا متي وراچوله. بي بي جان وویل: " یو کس خبرې وکړئ. هر یو د خبرو لپاره وخت لرئ. عمر! ته ووایه"

عمر نيغ ناست وو، عبدالله ته يې مخ ور واړولو اووئې ویل: " او.... "



بي بي جان د عمر خبرې قطع کړې وئې ويل: " عمر! ته له خپل ځان څخه شروع وکړه ما ته په دقيقه توګه ووايه چې ستونزه څه ده؟"

عمر په سوچ کې شو هغه نه پوهېده چې د بي بي جان مو خه څه ده. بيا‌يې وويل: " زه... هغه وخت چې ما وليده بايسکل زمونږ په ځای کې ايښئ دی، اعصاب ئی ډېر را خراب کړل. هغه ځای چې مونږ ئې لرو ډېر تنګ دئ. کله چې مونږ و غواړو هغه خوا او دې خوا لاړشو بايسکل مو لاره نيولې وي. عبدالله دومره پوښتنه هم له مونږ څخه ونه کړه چې خپل بايسکل هلته ودروې او که نه؟"

عبدالله په چټکۍ ځواب ورکړ: " ما غوښتل چې له تاڅخه پوښتنه وکړم؟"



بي بي جان وويل: " عبدالله ! خبرو کې مه را غورځه. تاته وخت شته چې خبرې وکړې. بيائې مخ عمر ته ور واړولو او وئې ويل: " عمر! ته څه غواړې؟ "

عمر وويل: " زه غواړم چې بايسکل دې له هغه ځای څخه لرې شي. "

بي بي جان خپل مخ عبدالله ته ور وګرځولو وېې ويل : " اوس عبدالله ته ووايه چې د عمر مشکل څه شئ دئ؟ "

عبدالله قهرجن ښکاريده وئې ويل: " د عمر مشکل ؟ ما فکر کاو چې زه خپل مشکل درته ووايم . "

بي بي جان وويل: " مشکل به دې ووائې ، خو اول داراته ووايه چې تا رښتيا هم د عمر مشکل پېژندلئ دئ؟ ادامه ورکړه. "



عبدالله په لمړی ځل کې د عمر مشکل په بدخويي تشریح کړ. هغه وخت چې ده تشریح ورکوله، څرګنده شوه چې د عمر ستونزه یې ښه درک کړېده.

بي بي جان وویل: " عبدالله ستاله وینا څخه هيله پيدا کېږي اوس دې خپل مشکل ووایه. بي بي جان وویل: "

عبدالله ددې خبرې په اړه چې خپله خبره دې ووايي ژبه ئي بنده بنده کېدله وېې ويل " ښه، هغه... "



بي بي جان وويل: " نه عبدالله ، په یاد دې اوسه د "زه" له کلمې څخه شروع وکړه.
اودا ووایه هغه څه چې پېښ شوي دي د هغو په اړه څه فکر کوي، او څه غواړې؟"

عبدالله یوه لحظه د دې لپاره چپ پاتې شو تر څو دا وسنجوي چې موضوع څرنګه روښانه کړي. هغه وویل: " کله مې چې ولېدل د بایسکیل سیخونه مات دي ډېره غصه ئې راوستله . ما یواځې دومره غوښتل چې بایسکل په داسې ځای کې ودروم چې خراب نه شي او یا یې څوک غلا نه کړي. "

بي بي جان وويل: "عمر! اوس ته ووایه چې د عبدالله ستونزه څه ده؟ "

عمر هڅه کوله چې موضوع په سمه توګه بي بي جان ته ووايي.





" بي بي جان وويل: "  عبدالله : اوس ما ستونزه وپېژندله نو اوس باید مونږ ستا سو د ستونزو د حل لپاره ډېرې لارې ولټوو؟"

عبدالله وویل: " دا څرګنده خبره ده، عمر دې پام وکړي، خپله پښه دې په مناسب ځای کې ایږدي او دنورو خلکو سامان ته دې پام وکړي. "

بي بي جان وویل: " عبدالله د یو مشکل د حل لپاره یواځنی یوه لاره نه بلکه ډېر لارې شته دي. مونږ باید د ډېرو لارو په لټه کې شو او بیاپه ټولو کې ښه لاره وټاکو. سمه ده؟ تا یواځې په یوه لار فکر کړئ دئ.راځه چې نورو لارو باندې  هم فکر وکړو.

عمر وویل: "هغه دې خپل بایسکل بهر ودروي. "

عبدالله وویل: "نه هلته یې نه دروم هغه ورکیږي. "

بي بي جان وویل: "  عبدالله ! مونږ باید د دې ستونزې د حل لپاره ټول وړاندېزونه واورو. اوس غواړم چې ټول وړاندېزونه له ځان سره واخلم. هر څومره چې نظریې ډېرې وي د حل لاره اسانیږي "



په دې وخت کې ناڅاپه دکوټې له یو ګوټ نه نرئ آواز را پورته شو چې و یې ویل: " هغه کولی شو چې خپل بایسکل دسپوږمۍ رڼا ته ودروې" ټولو خپل مخ هغی خواته واړولو وئې لیدل چې احمد او جمیله وو. دوی په هغه څه وخندل چې احمد د ستونزې د حل لاره وبلله.

عبدالله په خندا وویل : " احمد! بې اد بې مه کوه! "

بي بي جان وویل: " نه ، اجازه ورکړه چې خپل نظر ووایي. هر څومره چې نظرونه ډېر وي، دا ښه ده. ځنی وختونه چې یوه نظر ډېر ساده ښکاري کیدلی شي یو بل داسي نظر منځ ته راوړي چې هغه د پلې کېدلو وړوي. مهرباني وکړئ ډېر نظرونه ورکړئ.

جمیلې وړاندیز وکړ: " عبدالله دې دشپې له خوا خپل بایسکل په پړي د کوټې چت پوری وتړې. "

عمر وویل: "څه کیږی که هغه بهر کیږدي او کولپ یې کړې. "

عبدالله وویل: " ښه دا کار به وکړم خو په دې شرط چې کولپ ولرم. خو که کولپ هم ولرم داکار نه کوم ځکه څوک به راشي او هغه به له کولپ سره یوځای یوسې. "



عمر وویل: " ښه، د ورځې له مخې چې مونږ کورته په دې لاره ځو بایسکل دې کولپ کړه او بهر
ېې کېږده! د شپې له مخې ئې همدلته کېږده چې تر اوسه دې اېښودلو"

عبدالله ورته وویل: " ښه نظردی خوکولپ نه لرم ."

میرزا وویل: " ځنځیر دومره ګران نه دی زه پیسې درکوم چې یو ځنځیر راونېسی. "

د عمر خبرو په عبدالله ډېر اغېز وکړ، هغه هلک چې څو ساعته مخکې بې له عبدالله سره لاس په
ګریوان شوی وو اوس هغه ته یو کولپ په قرض ورکوي.

عبدالله وویل: " عمر ! له وړاندیز څخه دې مننه، آیا غوارې چې ځنی وختونه زما له بایسکل څخه
ګټه واخلي؟ "



عمر په مسکا وویل: " هو! زه ډېر غواړم ما پخواله دې چې کلی پرېږ دو یو بایسکیل درلود. "
میرزا وویل: " هلکانو! یو شی چې مونږ باید د هغه په برخه کې خبری کړې وای پاتې شو او هغه دا چې آیا مونږ کولی شوچې دداسې مشکل له پیښیدلو څخه مخکې د هغه مخ نیوی وکړو؟"
دواړه چپ پاتې شول. عبدالله وویل: "پلاره نه ، نه پوهیږم. "
میرزا وویل: "څه کېدل مخکې له هغه چې بایسکل په هغه ځای کې کیږدې ددې مشکل په هکله دې عمرسره خبرې کړې وای ؟"

عبدالله په تفکر سره سرته ټکان ورکړ. په دې وخت کې غلام کاکا ورو کورته راننوت اوکښیناست. تسبیح ئې اړولې وېې ویل: " د هغه څښتن تعالی عبادت کوو چې ډېرمهربان او ډېرزیات بخښونکی دی. "